د بانکي څارنې او مالي خدماتو لوی آمریت
آمریت عمومی نظارت بانکی و خدمات مالی

DA AFGHANISTAN BANK

کڼه: ۸۳۰۹ م م
۶۰۹۴ – ۶۱۷۵
نېټه: ۱۴۴۶/۷/۱۵
۱۴۰۳/۱۰/۲۷

# د افغانستان بانک

بسم الله الرحمن الرحیم

ټولو قدرمنو مجوزو بانکونو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته و بعد:

**موضوع: د افغانستان په بانکي سکتور کې د سودي پورونو اړوند مفصل معلومات**

له ډېر درناوي وروسته!

لکه څرنګه چې په جریان کې یاست، د ا.ا.ا له فتحې وروسته په بانکي سکتور کې خصوصاً د سودي پورونو په برخه کې جدي ستونزې موجودې وې او دا چې بانکونه یو تخنیکي سکتور دی او سودي پورونه پیچلې اړیکې او موضوعات لري نو د افغانستان بانک د دې ستونزې د دایمي او بنسټیز حل موندلو لپاره جدي هڅې کړې دي، چې د یادې موضوع په تړاو د قدر وړ سترې محکمې قاضي القضات سره د قدر وړ مالیې وزارت، او علومو اکاډمې استازو په شتون متعدد مجالس ترسره شول چې په پایله کې یې د سودي پورونو اړوند یوه باصلاحیته کمېټه جوړه شوې ده.

د یادونې وړ ده چې ا.ا.ا د مرکزي دارالافتاء لوی ریاست د ۱۱۵۱ ګڼې د ۱۴۴۵/۱۲/۲ نېټې فتوا چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د ۶۳۵۴ ګڼې د ۱۴۴۵/۱۲/۲۰ نېټې لیک د افغانستان بانک ته راستول شوی دی، او د سودي موضوعاتو اړوند فتوا پکې صادره شوې ده، چې ستاسو د معلوماتو په موخه د دې لیک سره مل تاسو ته دړواستول شوه چې د سود د حرام والي او نورو موضوعاتو ترڅنګ پکې یادونه شوې چې سود دې په رأس المال کې حساب شي.

همداراز، د ا.ا.ا د قدر وړ سترې محکمې د ۳۷۳ ګڼې د ۱۴۴۶/۰۳/۰۵ نېټې لیک چې د بانکونو د پخوانیو پورونو او اړونده سودي موضوعاتو د حل په موخه د سترې محکمې د دارالافتاء د محترم رئیس شیخ سلطان محمد په مشرۍ، د افغانستان بانک، د مالیې وزارت او د علومو اکاډمۍ په غړیتوب یوه ګډه کمېټه د یادې موضوع د لا ښه حل په موخه ټاکل شوې وه، د متعددو مجالسو په نتیجه کې د بانکونو د پورته ذکر شویو ستونزو د حل په موخه حل لارې وړاندیز کړې دي او د یادې ستونزې د حل په موخه اړوندو اداراتو لاندې ته مسئولیتونه سپارلي دي:

۱. د دافغانستان بانک چې له بانکونو نه د بیمې په نوم کومې روپۍ اخیستې دي هغه به بېرته بانکونو ته سپاري.

۲. بانکونه چې له متعاملینو څخه د سود اخیستې روپۍ په رأس المال کې حساب کړي یا یې نقدي بېرته ورکړي، نو د مالیې قدرمن وزارت به هم د یادو سودونو پر سر له بانکونو څخه اخیستې مالیه بېرته بانکونو ته وسپاري.

۳. ستره محکمه به د بانکونو د شخصي املاکو د خرڅلاو له پاره په اختصاصي توګه د وثیقو د ورکړې او خلاصون پروسه آسانه کړي، تر څو بانکونه وکړای شي، د اړتیا پر وخت خپل املاک نقدو روپیو ته په اسانه واړوي، او خپله سرمایه پوره کړي.

همدا راز د هغو اشخاصو جایدادونه به په اسانه بانک ته انتقال یا په بازار کې پلورل کېږي چې په خپله خوښه دې کار ته چمتو دي.

محکمه به مقروضو مشتریانو ته د پاتې مبلغ د هم مهاله ورکړې په اړه قاطع حکم کوي تر څو نقدي پیسې بانکونو ته ورکړي، او د نه ورکړې په صورت کې به د مقروضو مشتریانو د جایدادونو د خرڅ حکم کوي.

د پورته مواردو پر بنسټ او تعقیب د ا.ا.ا د سترې محکمې په مشرۍ کډې کمېټې یو وړاندیز د ا.ا.ا مشرتابه أميرالمؤمنين حفظه الله تعالى دفتر ته د سودي پورونو په تړاو استولی دی چې په تیری اداري کې د سودي پورونو قرارداونه شوي او د فتحې څخه دمخه قرارداد پای ته رسیدلی وي، **(نو محاکم دې د خلکو له خوا له بانکونو څخه د یاد اضافي سودي مبلغ د غوښتنې دعوې نه اوري)** تر څو چې په دې اړه د ا.ا.ا د مشرتابه مقام نهایي پریکړه یا فرمان صادر نشي.

بناءً یاده موضوع تاسو ته د معلوماتو او وروستیو اصولي کړنو په موخه شریکه شوه.
د افغانستان بانک په چارو کې تاسو ته د لا زیاتو بریاوو غوښتونکی دی.

په درنښت

نور احمد آغا
د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۷۶۱ (۲۰) ۹۳۰۰۰/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایټ
ټولنیزي شبکې فیسبوک - د افغانستان بانک / تویټر - @AFGCentralbank / انستاگرام - bank